انجينير فهيم پښتون وردگ ۲۰۱۱/۰۹/۱۹

# يوه ولسي غورځنګ ته اړتيا!

ښه ځوانان به پرې نږدې خپل هوډ له لاسه ==== كه يې سر شي د خوني زمري تر زامه
ولې افغان ولسي غورځنګ؟

دافغانستان ستونځه سياسي او نړې واله ده۰ او دا سياسي او نړۍ وال حل يواځې او يواځې سياسي ګوندونه جوړولاى شي۰ نن ګران افغانستان كې يوه لويه تشه همدا ده چې زموږ ولس د يوه سياسي ځواك او ګوند په جوړولو كې پاتې راغلي دى۰ نورو پوځي او سياسي پردى پالو جوړښتنو ازموينه پدې ناكامه شوه چې دوى هم په خپلو جوړښتونو او ګوندونو كې بې جرګې او بې ولسه تګلارې او پردۍ كړنلارې درلودلې او هم يې ولس پاله ګوندونه په ډېره ناځوانمردۍ سره وځپل.

نيژدې پينځه دېرش كاله وشول چې زموږ په ولس د پرديو زهر، ګولۍ - بارود او چاړې د همدې ولس ديو ځو نااهله، ناپوهه، وچ سريو، خرڅ شويو سياسي جارچيانو او شر اچوونكو بچيو په لاسونو چليږي۰ بيا دا پوره دېرش كاله وشول چې زموږ ولس او هيواد جنايت او جنايت كوونكو ته يرغمل شوى دى۰ په دې كې كه همدومره پردي پړه دي بيا همدومره موږ هم پړه په دې يوو چې موږ ټول د نورو څخه تمه لرو چې يو بل ځوك راته يو څه وكړي۰ او د پاسنيو يادشويو ملاتړي خو هم موږ په خپله يوو۰ كه زموږ هرې ناستې پاستې او خبرو اترو ته په ځير وګورو نو دا راته په ډاګه كيږي چې زموږ كه شپاړس كسان په يوه ناسته كې كېنون كوو نو موږ دلته څلور لويې ستونځې لرو۰

۱—— په يوه ناسته يا غونډه يا هم بنډار كې موږ په شپاړسو كې پينځلس كسان ټول مشاورين يوو۰ او ټولو پينځلسو كسانو سره د مشورې لوى لوى لستونه وي۰ او هر يو زموږ د دې پينځلسو څخه وايوو چې داسې دې وشي او داسې دې وشي۰ نو زموږ ولس دكړوو او عمل كلتور له لاسه وركړى دى۰

او كه زموږ دغه پينځلسو كسانو څخه پوښتنه وشي چې دا لوى لست ځوك پلى كړي يانې ځوك يې وكړي؟
نو ځواب كې ټول سره پاتې راشي۰ نو په يوه كس خو هيڅ هم نه كيږي۰

۲—— بيا هم زموږ په يوه ناسته يا غونډه كې زموږ ټول وخت د ستونځو په يادولو، په ګيلو مانو، شكايتونو او د نورو د پړه كولو په شخړو تيريږي۰ يانې كه موږه سل ۱۰۰ دقيقې خبرې اترې كوو نو دا نه نوي ۹۹ يې په همدې روانو ستونځوڅيړلو، ګيلو مانو، شكايتونو، غيبتونو او پړه كولو تيريږي۰ يواځې يوه دقيقه په دې تيريږي چې ښه نو څه كول پكار دي۰ دلته نو موږ ټول ښه هم ستړي وو او هم ډېر خپه۰ نو كله كولاى شو چې د رغنده خبرې او د راتلونكې لپاره يوه كرښه يا پلان وړاندې كړوو او خپله پرې خبرې وكړوو۰

۳—— موږ چې كوم سياسي جوړښتونه لروو په دوى كې لويه ستونځه همدا ده چې چا تر ټولو لويه د زده كړوو شهادت نامه او د كوم مشهور هيواد څخه راوړې ده۰ دا موږ ته لويه ستونځه په دې ده چې موږ دا خبره نه كوو چې دا ځوك چې موږ د يوه سياسي جوړښت او يا ګوند مشر كوو نو دا خو سياست كوي او د ولس او هيواد د ژغورلو او بيا د سمسورلو لپاره بايده چې پوهه او متره او كارې ډله او كرښه ولري۰ او موږه په دې هم سر نه خلاسوو چې دا زموږ د لويې پوهې خاوند خو يا يې په سيخ كې يا په كولمه كې يا هم په نبات يا خاوره كې دا دوكتورا يا پوهاندې راوړې ده۰ موږ دا پوښتنه هم نه كوو چې نو زما د ولس او هيواد لپاره يې كوم كارې ډله او ددې سياسي ملګرو په مرسته او همكارۍ يوه د ژغورلو او سمسورتيا كرښه برابره كړې ده چې د پلي كولو يې يو څرك په كې وي۰

زموږ په سياسي جوړښتونو كې بله لويه ستونځه همدا ده چې نن سبا چې زموږ په ولس كوم ناتار راوان دى دوى يې هيڅ پروا هم نه كوي۰ يا دا چې ډاريږي او يا هم پرې نه پوهيږي چې څنګه ورسره چلند وكړي۰ دا دواړه دربځه نا ملي او نا سياسي دي۰ دا ځكه چې ددې سياسي بنسټونو ډېرى مشرتابه هم د ولس څخه لرې پاتې دي او هم نوي نسل او د ځوانانو په روزنه كې هم پاتې راغلي دي چې ځوان نسل زموږ د سياسي او نړۍ والې ستونځې په سموولو كې ښه ونډه اخيستلاى شي۰

شته او تير شوي سياسي ګوندونو د ځوانانو د انرژۍ څخه يا ناوړه ګټه پورته كړې او يا هم پرې نه پوهيږي چې څنګه يې سمبال كړي۰

۴—— بله لويه ستونځه همدا ده چې كله زموږ ځوانان او پيغلې د يوه هيواد او ولس پاله خوځښت جوړولو لپاره سره خبرې اترې كوي بيا داسې كسان هم په دوى كې ډېرى وي چې دوى داسې خبرې رامينځ ته كوي لكه چې:
كوم بهرنى هيواد به ددې خوځښت يا ګوند ملاتړ كوي؟
پيسې به د كومه كوو؟
چې دا دواړه نه وي نو هيڅ هم نه كيږي۰ او يا هم دوى د همدې دواړو خبرو لپاره سره راټول شوي وي۰


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنـښت همكارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيكه ټينګه كړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليكنې د ليكنيزې بڼې پازوالي د ليكوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليكنه له راليږلو مخكې په ځير و لولـئ

زموږ په اند دا ستونځي شته خو د بشريت تجربو دا په وار وار جوته کړې ده چې د ولسونو هوډ او پرېکړې هيڅ څوک هم نه شي بدلولای. زموږ خلک وايي:
د خلکو زور د خدای زور.
نو که چيرې موږ د خپلو او د نورو د تجروبو څخه زده کړه وکړوو او په کار ا و مبارزو پيل وکړوو په ځانګړې توګه زموږ ځوانه انرژي په کار واچوو نور هر څه کولای شوو او بيا به د نورو هيواد مسله به هم همدا زموږ ولس سره غورچاڼ کوي.
ځوانان نور تم کيدای نه شي! نو اوس ځوانان بايده چې نوبت په خپل لاس کې واخلي.
زموږ ولس او بيا په ځانګړې توګه موږ ځوانان د دې ځلورو لارو سره مخامخ يوو.

- د سوکرات تل پاتې خبره ده چې: "جنايت کړل او سزا نه ورکول کيدل د جنايت په خاتر تر ټولو بده غلتي او لويه بلا ده." (اپلاتون او ګورجايس، ۷۶ پاڼه).
- زموږ په آند جنايتکاران، ټوپکيان، د سرېټوب تيري کوونکي او ځوونکي داسې بې مهاکمې او سزا پرېښودل، او په کرېدلو باندې يې واکداران کول، دا د تر ټولو لوی خيانت، غلتي او لويې بلامور ده په افغانستان کې(فهيم وردګ)

۱-- يا به موږ خپله وجداني مبارزه د اوسنيو ګوندونو په چوکاټ کې او د سياسي جارچيانو او شخسي ګټه پالو (اپرچونيسټانو) تر څنګ د خپلو ارزښتونو پرېږدو او د څو پيسو او څوکيو لپاره خپل وجدان تر پښو لاندې کوو او ددوی تر مشرۍ لاندې دا ټول جينجړتوب او بې درېځه سياست ته ادامه ورکوو. او د همدې شته ګوندونو د مشرتابه، د سياسي جارچيانو او شخسي ګټه پالو (اپرچونيسټانو) چې ګوندونه او ولسونه په ډېره چالاکۍ د خپلو شخسي ګټو لپاره چلوي، تر څنګ به د لويو لويو جنايت کوونکو او غدارانو تر وزر او سياسي سوټك لاندې د څو ماموريتونو او ټنګو لپاره کار کوو.
۲-- يا هم وسلې ته لاس اچووچې مشران يې بې سياسته او بې درېځه د پاکستان او ايران او ځينو نورو استخباراتي کړيو په ولکو کې لوبلول کيږي. چې د ۱۹۹۰مو کلونو د ترخې تجربې تکرار يې سل په سله کيدونکی دی.
۳-- يا به د سياست او مبارزې ميدان پرېږدو او سياسي ملنګي به کوو.
۴-- او ياهم د خپل وجدان او د کرېدلي، ځورېدلي، جنايت او جنايت کوونکو ته يرغمل ولس او هيواد د ځګيروي غږ اوروو او د ژغورنې لپاره متې رانغاړوو.
موږ څلورم بديل باندې ګروهه لروو چې ورته متې راونغاړوو او کار پيل کړوو چې په خپلې مبارزې سره به دا تر سره کوو.
اوس به زه يوې بلې خبرې ته راشم چې زموږ يوه ډېره تکړه ژورنالست يو څو پخې پوښتنې کړې، دې چې ډېريو نورو ځوانانو هم په خپل وخت سره خو دومره په پخو کرښو ندی کړې، چې د ده په خپلو کرښو کې داسې دي:
((دوردګ صاحب په شمول هرڅوک چې غواړی ګوند جوړ کړی نو دا لاندی پوښتنو ته دی ځواب پيداکړی بيا کيدای شی چې ګوند جوړشی.
۱- ولی غواړی ګوند جوړکړی هدف څه ده؟
۲- هرهدف چې لری دوزارت عدلی په ۱۵۰ ګوندونو کی خامخا دد دهدف ګوند هم شته نو بياولی له هغه سره نه يو ځای کيږی؟
۳- همدا اوس ۵ سياسی حرکته بيله دی چې په وزارت عدليه ثبت وی روان لکه داتمر صاحب، سليمان لايق، دپښتنو فکری ټولنه، د ډاکترفاروق عظم سياسی حرکت او دعبدالغفورليوال سياسی حرکت کيدای شی نور به هم وی زه به نيم پری خبر له همدوی سره دی يو ځای شی که وردګ صاحب يانور ملګری په دی فکر کی وی چې دوی نشی کولای يا نه پری پوهيږی نو بياموږ تر دوی اوښياريو تردوی څالاکه يو او که موږ غواړو يو موجزه وکړو کله چې موږ په دوی ټولو خط کش کو نو موږ څه شی يو او ولی داتوقع کيږی چې ترنوروبه ښه يو کله چې اتمر، ليوال او لايق له وسه نه ده پوره نو تاسو ځانته څه فکر کړی چې تاسو بی په دی پنځه ۶ ځوانانو سره شل کړی. دا زه ما نظردی البته زه دګوند مخالف نيم او هيڅ ځوان دی ته نه هڅه وم چې بی له سياسی ګوند څخه په يوازی مبارزه وکړی خو فکرکوم چې لا وختی ده.
په درنښت
عالم زی ))
د لومړۍ پوښتنې ځواب په همدې ليکنه کې شته.
د دوهمې پوښتنې په ځواب کې بايده چې ووايم:
دا ۱۵۰ ګوندونه موږه ټول ځکلي دي او ليدلي مو دي. نو . د دوی ځينو تکړه هيواد او ولس پاله غړو ته په درنښت سره له دوی څخه هيڅ هم نه جوړيږي. دا ځکه چې په دې ګوندونو کې داسې مشران يې شته چې يا خو به په دغه د جنايت په ناورين کې ککړ دي يا هم د جنايت کارانو سره په درغليو کې اخته دي او يا هم د هيواد او ولس ژغورنې ميرانه او جرت


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

نه لري۰ او که کوم چا د دوی کومه سیاسي میړانه لیدلي وي نو بیایې دې ډګري کړي! موږ ته په تجربه جوته شوي دي۰

او د دریمې پوښتنې په ځواب کې چې پاس یاد شوي کسان بیا هم یا په تیرو جنایتونو کې ککړ یا د جنایت کارانو سره په درغلیو کې اخته دي او یاهم سیاسي جارچیان دي چې یواځې سیاسي موریدان غواړي نه دا چې یو سیاسي ټیم جوړ او زموږ د کړیدلي او ځورېدلي ولس او هیواد د ژغورلو لپاره یې مبارزه کړي وي۰ او یوه ډله نور یې چې عمر پرې تیر دی او په خپل ټول عمر کې یې دوه کسه هم د یوې موخې لپاره او یا د هیواد او ولس د ژغورلو لپاره ندی سره راټول کړي، اوس لکه کرزی لالا سیاسي لاټري ګټل غواړي۰ دوی یوه یې هم دیوه سیاسي ټیم او ګوند جوړولو لپاره په ولس کې یوه ورځ هم مبارزه نده کړې چې په ځوانانو ډاډه اوسي او دوی سره راټول کړي۰ او په دوی کې یوه بله ډله یې له ډېرو ولولو او احساساتو سره راټول شوي دي چې هغوی په بې سیاستۍ کې سیاست کوي زموږ د ولس خبره چې په وچ خوړ کې لامبو وهي. او یوه بله ډله یې یواځې سیاسي مشاوران دي۰ د دوی لیکنې وګورئ ټولې خبرې یې یواځې مشورې ورکول دي چې داسې دې وشي او هاسې دې وشي، پلاني ته داسې مشوره ورکوو او پلاني ته داسې مشوره ورکوو. او د نیوکو او مبارزې څخه دومره وېره او ډار لري چې لوی جنایت کاران، غداران او ملي خاینان خو لا پرېږده، بدې خوړونکو ته هم نشي وېیلای چې پر مخ یې څو ګلان دي۰ خو یو ټکی هم نه وایې چې داسې وکړوو او هاسې وکړوو او که موخبره ونه منل شوه نوبیا داسې وکړوو۰

نو دوی به څنګه سیاست وکړي چې زموږ دا جنایت او جنایت کوونکو ته یرغمل ولس او هیواد وژغوري؟

موږ دا وایو چې موږ نه سیاسي موریدان غواړوو، نه هم نه مشاورین یوو او نه هم د جنایت کارانو سره روغه کوو او نه یې په درغلیو کې ورګډېږوو۰ همدارنګه نه یواځې دا چې د کورنیو او بهرنیو په جنایتونو سترګې نه پټوو بلکې هم یې غندوو او هم د خپل ولس او هیواد د ژغورلو لپاره هیواد او ولسپاله مبارزې ته مو ملا تړلې ده۰

نو په همدې خبره مو هوډ کړی چې موږ په رېښتیاسره یو سیاسي ټیم او ګوند د ځوانانو په ګډون میړانه او انرژۍ جوړوو چې هم کورنۍ او هم نړۍ واله مبارزه وکړي لکه د نلسن منډیلا، هزرت باچا خان او نور مبارزینو په شان ، خو دخپل هیواد او ولس د اړتیا وو سره سم، نو ځکه په خپل بریالیتوب ډاډه یوو۰ او څومره ځوانانو سره مو چې خبرې هم کړي دي دا د دوی د زړه غوښتنې او ارمانونه دي۰ او ځینو سمو مشرانو یې هم ملاتړ کړی دی۰

د افغان ولسي غورځنګ موخې څه دي؟

۱ـــموږ غواړوو چې خپل هیواد او ولس له دغه اوسني جنایت او جنایت کارانو څخه وژغوروو۰

۲ـــموږ غواړوو چې د عدالت څخه ورسته پایښتي سوله په خپل هیواد کې راولوو۰

۳ـــموږ غواړوو چې د بهرنیو هیوادونو لاسوهنې لنډې کړوو په ځانګړې توګه د ترهګرۍ برید کونکوو ځالې پټن ځایونه او روزنځایونه یې په ګاونډیو هیوادونو کې د نړۍ والې ټلوالې په مرسته وتوګل شي۰

۴ـــموږ نور سیاسي جارچیانو، معامله ګرو او جینجړو ته اجازه نه ورکوو چې زموږ په رایو معاملې وکړي۰

۵ـــموږ غواړوو چې خپل هیواد کې پرمختګ د یوې ټولنپالې ولسواکۍ په مټو او اند بنسټیز او تر سره کړوو۰

دا به څنګه تر سره کوو؟

لوی خدای وایي چې په هغه قام کې زه بدلون نه راولم چې هغه قام په خپلو نفسونو کې بدلون رانه ولي۰

د دې لپاره چې موږ خپلې موخې تر سره کړوو نو موږ جوړښت انرژۍ او مشورې ته اړتیا لروو۰ نو اوس په همدې دلیل چې نور سیاسي جوړښتونه د دې وړ نه دي چې دا هیواد وژغوري او نه هم په دوی کې دا متره او میړانه شته او نه هم په دې پینځه دېرشو کلونو کې ددوی تجربې او کارونو څه وکولای شول نو موږ د یوه افغان ولسي غورځنګ ډېره کلکه اړتیا وینو۰

موږ وایوو چې انرژي زموږ په ځوانانو کې ده او مشورې د مشرانو سره دي۰ نو موږ په ټولو ځوانانو غږ کوو چې خپله انرژۍ د خپل هیواد او ولس د ژغورلو او سوکالۍ لپاره د هغو مشرانو چې په جنایت کې ککړ نه وي سره ګډ کړوو چې تر څو د افغان ولسي غورځنګ په جوړلو سره موږه خپل ولس او هیواد وژغوروو۰

په خپلو غونډو او ناستو پاستو کې خپل ٪۹۵ د راتلونکې لپاره په کار واچوو او یواځې ٪۵ په ستونځو ګیلو او شکایتونو څېړلو تېر کړوو۰

هزرت باچا خان وایي چې:

د هر قام چې مشران میړني وي هغه قام هم میړنی وي او د هر قام مشران چې بزدله وي نو هغه قام هم بزدله وي۰

خپلې خبرې د مشورې او وشي وشي څخه واړوواو ټول د عمل لپاره متې راونغاړوو د دې مانا دا نده چې هیڅ کرښې او پلارن به نه جوړوو بلکې کومه کرښه او پلان چې جوړوو نو د پلي کولو لپاره یې هم متې راونغاړووو۰

او هر هغه څوك چې زموږ د مشرۍ داوه کوي هغه د څو خبرو سره مخامخ کړوو چې څنګه او د کومې کارې سیاسي ډلې په مرسته به خپلې موخې پلي کوي۰

او دا ټول پرته له یوه سیاسي ولسي جوړښته ناشونی دي۰

د خپل ولس او هیواد د ژغورنې او سمسورتیا لپاره بایده چې موږه په خپله ځان چمتو کړوو۰

---



افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د جنوبي افريقې مبارزينود خپل ولس او هيواد چې دجنايت كاره اپارتايدلخوا يرغمل نيول شوی ؤ اوټول غرب هم د دغه جنايت كاره اپارتايد ملاتړ كولو د ژغورلو او خپلواكۍ لپاره يې ځومره په ميړانه مبارزې زده كړلې او تر سره يې كړلې٠
نيلسن منډېلا ته ډاكټر مصطفى د الجزاير د خپلواكۍ غورځنګ مشر مشوره وركړې وه چې د نړۍ د ولسونو خيال خپلول د جيټ الوتكو د يوه لښكر څخه هم ډېر ارزښت لري٠

په يوولسم د جون ۱۹۶۴ كله چې د افريقې ملي كانګرس غړو هر يو نلسن منډېلا والټر، رېمنډ، احمد كټرادا، ګو ون، انډرو، الياس او ډېنس چې دوی ته سزا اورول كيدله نو په هماغه ماښام د دوی وكيلان راغلل چې دوی سره په دې خبره سلا مشورې وكړي چې ددوی د سزا پر وړاندې د اپيل يا عريضې كول له كومه ځايه او څه رنګ پيل كړي٠ دا ځكه چې دا خبره نيژدې پخه غوندې وه چې دوی ټولو ته به د مرګ سزا اورول كيږي٠ نووكيلانو د اپيل په سر د دې مبارزينو سره د خبرو لپاره راغلي ول٠ چې په دې هكله نيلسن منډېلا وايي:
«په هغه شپه وروسته له هغې چې ما (نيلسن منډېلا) والټر سيسولو او ګو ون مونږه خپلو مينځونو كې سره سلامشورې وكړلې نو موږ خپلو مدافع وكيلانو ته په ډاګه كړل چې كه موږ ته هره سزا راكړل شي ان كه په دار كول هم وي (مرګ سزا) موږ به يې پر وړاندې اپيل او د بدلون لپاره يې عريضه ونكړوو٠ زموږ پرېكړې زموږ وكيلان هك پك اريان كړل٠ والټر، ګو ون او زه (نيلسن منډېلا) په دې ګروهه وو چې اپيل او عريضه كول به زموږ وجداني دريځ ړنګ كړي٠»
او په هماغه ورځ په ټوله نړۍ كې د جنوبي افريقې د محكمې پر وړاندې نړۍ وال غبرګونونه تر سره شول چې يوه بيلګه يې د برېتانيې د پارلمان يا ولسي جرګې پنځسو غړو (۵۰) په لندن كې لاريون وكړ،، د امريكې د كانګرس غړو دا محكمه وغندله او ان په نړۍ واله كچه د سمندرې پولو د بړۍ ډكولو كارګرانو د دې پرېكړې پر وړاندې داسې غبرګون وكړ چې دوی به د جنوبي افرېقې د جنايت كاره اپارتايد مالونه نه په بيړيو كې باركړي او نه يې هم ترې راكوز كړي٠ د ا ټول په خپل سر او ناڅاپي توګه ونه شول٠ دا د جنوبي افريقا د كانګرس ګوند د كورنيو او نړۍ والومبارزو په بركت وشول چې دوی د بشريت پر وجدان باندې وجداني او سياسي اغېزه وكړله٠
موږ هيواد او ولس پاله افغانان دخپلو او نړۍ والو تجروبو څخه ډېر څه زده كولای شو٠ په نړۍ وال ډګر كې د جنوبي افريقې د خپلواكۍ مبارزې چې نيلسن منډېلا يې يو ځلانده ستوری دی زموږ لپاره يوه ښه بيلګه جوړولای شي٠ دا ځكه چې د دوی ټول ولس هم زموږ په شان يوې جنايت كارې د اپارتايد (ياني توكم پالې) ډلې ته يرغمل ؤ٠ او ددې جنايت كاره اپارتايد ملاتړي غربي هيوادونه ول٠ او د افريقې ملي ګانګرس ګوند په خپله كورنۍ سياسي او نړۍ واله مبارزې سره وكولای شول چې خپل هيواد د جنايت او جنايت كوونكو څخه په ډېره ټينګه وجداني مبارزه چې جوړښت يې سياسي ؤ، وژغوري٠ نو زموږ دا افغان ولسي غورځنګ مورچل بايده چې دا سې جوړ كړوو چې هم كورنۍ دټينګې مبارزې ستنه ولري او هم بهرنۍ مبارزه د خپلو پياوړو بچو په مټ سره پر مخ بوځوو٠ تر څو په ټوله نړۍ كې دا د جنايت كوونكو ملاتړي د خپلو ټولنو د وجدان سره مخامخ او مات يې كړوو٠
د بيلګې په توګه دا كرښې ورته په هر ډګر كې په ټوله غربي او شرقي نړۍ كې په ليكلي، وېيلو او وېډيويي ډول له سفارت خانو څخه تر پارلمانونو او ميډيا او مدني ټولنو او ان لارو كوڅو كې خپرولای شو او داكار نن سبا بيا ډېر ګران نه دی دا ځكه چې ډله ايزه مېډيا د بشريت په واك كې ده :

- د سوكرات تل پاتې خبره ده چې:"جنايت كړل او سزا نه وركول كيدل د جنايت په خاتر تر ټولو بده غلتي او لويه بلا ده٠" (اپلاتون او ګورجايس، ۷۶ پاڼه)٠
- زموږ په آند جنايتكاران، ټوپكيان، د سړيتوب تيري كوونكي او ډله ايز وژوونكي داسې بې محاكمې او سزا پرېښودل، او په كړېدلو باندې يې واكداران كول، دا د تر ټولو لوی خيانت، غلتۍ او لويې بلامور ده په افغانستان كې(فهيم وردګ)
- موږ برك اوباما او د ناټو هيوادونو مشرانو څخه پوښتو چې دوی څنګه دا خپله ملګرتيا او انډېوالي په وجداني او اخلاقي ډول توجې كوي چې دوی يې د جنايت كارانو، ډله ايز وژونكو، ټوپكيانو، مخدره موادو قاچقچيانو، سړيتوب څخه تيري كوونكو او بډې خوړونكو سره لري؟
- هيڅ يو وياړلی برېتانوی، اروپايي او امريكائی به دې ته ايجازه ورنكړي چې د دوی ولسي جرګې ته داسې كسان لكه تيموتي ملك وي (چا چې په اوكلهاما كې دولتي ماڼيۍ په بمونو والوزوله)، ډاكټر هرولد شپمن (دا هغه داكټر دی چې نيږدې درې سوه خپل ناروغان يې وژلي ول) ايين هنتلي ( دا هغه كس دی چې په دو دوولس كلنو ماشومانو يې جنسي تيری كړی ؤ او بيا يې وژلې وې) او كرادچ ( دهغه سربی دی چې په بوسنيا كې يې په لسهاو زره ښځې، ماشومان او زاړه يې ووژل) او دوی غوندې كسان ور دې ننه كړای شي٠
- دا بيا ولې په افغانانو باندې تپل كيږي؟


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همكارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيكه ټينګه كړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليكنې د ليكنيزې ښې پازوالي د ليكوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليكنه له راليږلو مخكې په ځير و لولــئ

- داسي خيال وکړئ چي سبا مرغان او چرګان په خبرو راشي او په ژړاګانو او کړنګهارو پيل وکړي چي دوی ته څومره درد رسيږي چي کله موږ انسانان هغوی وژنو او خوروو٠
- اوبيا پر موږ غږ وکړي" اې انسانانو موږ په وژنئ د خدای لپاره!٠ موږ ژوند سره مينه او ورته اړتيا لروو٠ موږ بچيان لرو، موږ هم ولولي او احساسات لروو او له يو بل سره مينه کوو٠ موږ ته تر ټولو لوی درد او کړاو رارسيږي کله چي تاسو موږ وژني!٠"
- او بيا موږ دا نوي خبره او پديده هره ورځ له ميډيا څخه تر لاسه کوو په پرله پسي توګه٠
- او بيا به کوم انسان د دې جرت وکړي چي هغوی ووژني، د هغوی د غوښو خوړل خو يې لا پرېږده؟
- نو اوس موږ وايو چي اې انسانانو؛
- ولي موږ افغانان دډله ابز وژونکو، جنايتکاره ټوپکيانو، د سرېټوب تيري کوونکو او د جګړې ميچني ، زياتيو، او کړاوونو ته تړل او يرغمل شوي يو؟
- ولي زموږ غږ نه اورېدل کيږي؟
- اې انسانانو!٠
- موږ کوم خو هم مرغان نه يو!٠ موږ چورلټ تاسي ټولو غوندي يو!٠
- موږ يو ځل بيا پوښتنه کوو چي موږ ولې ډله ابز وژونکو، جنايتکاره ټوپکيانو، د سرېټوب تيري کوونکو او د جګړې ميچني، زياتيو، او کړاوونو ته تړل او يرغمل شوي يو؟
- موږ ته په پرله پسي ډول د لوېديځوالو ملګريو ډلو لخوا وېيل کيدل چي تير هير کړئ او پر مخ ولاړ شي٠ خو د دغه کړاونوو څخه ډکو کلونو خبره بل ډول جوته کړله٠
- د تير څخه په زده کړې دا وېيلای شو چي، ان که موږ دا غلتي ومنو چي ټوپکيان د تالبانو پر زد په پوځي ډول په لومړي سر وکارول شول نو بيا ولي دا ټوپکيان او د دوی جنايت کاره همکاران ته اجارزه ورکړلای شوه او په پيسو او څوکيو داسي ونازول شول چي ټول افغان سياست او دولت او سياسي جوړښت يې يرغمل کړ؟

او تر ابده زموږ هيواد د بهرنيو د بريد او لاس وهني څخه خلاس شي٠

راځئ ځوانانو د افغان زمري بچيانو په غړمبهار شوو او دا خپل هيواد او ولس هم يې وژغورو او هم يې سوکاله او سمسور کړوو!

د بهرنيو سره به څه چلند کوو؟

شهيد مرحوم خدای بخښلي داوود خان چيرې وېيلي ول چي که پر ما د روس يا د امريکې فشار راشي نو زه به په روسي ګوګړ باندې امريکايي سيګرېټ ولګوم٠ خو له بده مرغه چي هغه ګوګړ چي ده سره ؤ دی پرې خبر نه ؤ چي هغه په زهرو ککړ ؤ او هغه سيګرېټ هم د بارودو جوړ ؤ٠ چي هم يې دی او هم يې زموږ ولس او هيواد په زهرو ککړ او په بارودو وسوځاوه٠

موږ وايوو چي که همدومره له اقتصادي او مالي او امنيتي اړخه موږ امريکې او ناټو ته اړتيا لرو خو بيا دوی له دې څخه ډېر زموږ خاورې ته اړتيا لري چي خپل ستراټيژيك او ډېرې ژورې ګټې تر لاسه کړي٠ او همدا شان دوی ته د وتلو په پايله کې به ډېرې لويې لويې ستونځې ورپه غاړه شي٠

له بله پلوه دا نور هيوادونه لکه روسيه چين هند ايران پاکستان او مينځنی اسيا او مينځی ختيز ته د امريکې او ناټو په شتون کې لوی لوی ګواښوونه او تاوانونه مخامخ دي او د دوی په تلو سره بيا دوی ته هم ګواښوونه او هم ګټې شته٠

نو موږ ته په کار ده چي د دوی خوږې ګوتې د خپل ولس په ژبه او اند يو او بل ته يې ور مخامخ کړوو په ولسواکه توګه چي هر چا سره زموږ ډېر ګټې خوندي وي هغوی سره به موږ د ګټو تر وخته ملګرتيا کوو٠ چي د ا هم يوه لويه او ژوره ستراټيژيکه برخه ده چي بيا به پرې ډېرې نورې خبرې هم کوو چي زموږ د غورځنګ او نورو ټول افغان سياسي او مدني ټولنې د چاروکيتوب په انګړ کې به پرېکړه پرې کوو٠ او که زموږ سياسي خبرې او د موږ د ولس غږ نه اوري بيا دوی ته د يرغلګرو په سترګه ګوروو!

د افغان ولسي غورځنګ جوړښت:

موږ وايوو چي دا د ګوند جوړښت او تګلاره يې بايده چي په ولسواکه توګه جوړ شي او د نني افغانستان د ولسي او جغرافيايي جوړښت او درېګونو ځواکونو جوړښت سره سمون ولري او هم په نړۍ واله مبارزه کې موږ ته مرسته وکولای شي، تر څو چي دا کدرونه او مشرتابه چي په افغان ولسي غورځنګ کې روزل کيږي او د مبارزې او په ولسواکه ټاکنو سره د ولس ډاډګيرني تر لاسه کولو وروسته د ژغورني او سوکالۍ لوی مسوليتونه پلي کړای شي٠ چي دا ټول موخې، تګلاره او جوړښت به موږ په لويه غونډه کې سره په ګډه جوړوو او منوو٠

دا به داسې وي لکه چي موږ ټول د يوې الوتکې په جوړولو پيل وکړوو نو دا خو ټولوته د کار په دوران کې په ډاګه کيږي چي په موږ ټولو کې څوك په کومه برخه کې ښه کار تر سره کولای شي او څوك زموږ د الوتکې ښه پيلوټ



افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

کېدای شي چې موږ ټولو ته د خپلې پوهې او کمال په اړه داډ ګرنه راکړي او موږ هم پرې ډاډه شوو  چې موږ ټول په خیر او خیریت خپل ټاکلي ځای ته ورسوي!٠

نښان یا لوګو:
زموږ د ګوند نښه بایده چې زموږ د موخو او جوړښت څرنګدونه وکړي٠ چې دا به هم په لویه غونډه کې په ګډه سره جوړوو او منوو٠
په درنښت: انجینیر فهیم پښتون وردګ


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولــئ